

# کلګري ته د نویو راغلیو کسانو لاربنود

## کلګري ته بنه راغلاست

په کلګري کې د ژوند کولو، کار کولو او شاوخوا ګرځېدو په اړه
د لا زیاتو معلوماتو لپاره د calgary.ca ویبپاڼې څخه کتنه وکړئ.

19-0002890



# د ټیلیفون مهمې شمیرې

**۳۱۱** د ښاري معلوماتو لپاره او یا د کلګري ښار په شاوخوا کې د یو خدمت غوښتنه کول. بېلګې چې کله ۳۱۱ شمېرې سره اړیکه ونیسئ:

- د واورې او کنګل د اندیښنو راپور ورکول
- د سړک په سر د خړاغونو د کار نه کولو راپور ورکول
- د شور ماشور شکایتونه

د ۳۱۱ شمېره له ۲۰۰ څخه زیاتو ژبو کې د ژباړې خدمتونه وړاندې کوي. که تاسو د خپلې ژبې نوم په انګلیسي کې ووایاست، یو ژباړونکی به وګمارل شي.

**۹۱۱** د روغتیا، خوندیتوب او ملکیت پورې اړوند بیړني حالتونو لپاره. پدې کې طبي ستونځې، اور لګېدنه، هغه جرمونه چې د اجراء په حال کې وي او یا د موټرو ترافیکي پېښې شاملې دي چیرې چې امبولانس او یا د راکښلو ټرک (tow truck) ته اړتیا وي. دا مهمه ده چې د کورنۍ ټولو غړو ته زده کړئ چې کله د ۹۱۱ شمېرې سره اړیکه ونیسي. حتی که یوه اړیکه نیونکی یوازې اور "fire"، پولیس "police" او یا مرسته "help" ووایي، بیړنۍ مرستې به واستول شي. دا هم مهمه ده چې خپل ځای یا پته وپیژنئ کله چې ۹۱۱ شمېرې سره اړیکه نیسي. د یو شخص موقعیت تل په آټوماتیکه توګه نه پیژندل کیږي نو دا اکثراً د معلوماتو خورا مهمه برخه ده چې په بیړني حالت کې د مرستې ترلاسه کولو لپاره اړین وي. د ژباړې خدمتونه شتون لري.

**۲۱۱** په کلګري کې د ټولنې یا ټولنیزو سرچینو په اړه د معلوماتو لپاره. پدې کې مالي، ټولنیز، خواړه او رواني روغتیا ملاتړ شامل دي. وړیاً او محرم او د ژباړې خدمتونه شتون لري. د نورو معلوماتو لپاره د informalberta.ca ویبپاڼې څخه کتنه وکړئ.

**۸۱۱** هیلت لینک: د روغتیایی سلا او مشورې او روغتیایی معلوماتي خدمتونو لپاره چې د راجسټر شوي نرس لخوا وړاندې کیږي. نرس ښایي ستاسو د ناروغۍ د تشخیص توان ونلري مګر تاسو ته به ووایي چې آیا تاسو باید طبي درملنه تر لاسه کړی او یا په کور کې د درملنې هڅه وکړی. د ژباړې خدمتونه شتون لري.

# د کلګري په شاوخوا کې ګرځېدل

## د اورګاډي په واسطه

د کلګري ښاروالی په دوو اصلي لاینونو کې د اورګاډي سیټرین (CTrain) خدمتونه وړاندې کوي – یو ریډ لاین چې شمال – سویل څخه تېریږي او بلیو لاین چې ختیځ – لویدیځ ته ځي. سیټرین د ښار په مرکز کې وړیا دی – په آسانه توګه د اوم سړک (7th Avenue) د یو تمځای څخه اورګاډي ته سپور شئ. تر هغه چې تاسو د ښار څخه د وتلو دمخه له اورګاډي څخه ښکته شی، کرایې ته اړتیا نشته.

## د بس په واسطه

د بس خدمتونه په ټول ښار کې شتون لري او د سیټرین لاین سره نښلوي. د خپلې لارې موندلو لپاره، کلګري ټرانزیټ یوه ویبپاڼه او اپلیکېشن لري چیرې چې تاسو کولی شی خپل اصلي ځای او منزل وټاکی ترڅو تاسو هغه ځای ته چې ځئ ومومی. تاسو کولی شی مهالویش په دغه ویبپاڼه کې ومومی: **calgarytransit.com**

## د ټرانسپورټ (ټرانزیټ) کرایه

د بس او سیټرین کرایې په ټول ښار کې یو شان دي، مهمه نده چې تاسو چیرته ځئ. تخفیف شوي کرایې د ماشومانو، زده کونکو او مشرانو لپاره شتون لري. تاسو کولی شی د پلورونکو ماشینونو څخه ټکټونه واخلی کوم چې سِکې کریډیټ او ډیبیټ کارتونه مني چې د سیټرین په ټولو تمځایونو کې شتون لري. په بس کې د خپلې کرایې د تادیه کولو لپاره تاسو د کرایې دقیق مبلغ ته اړتیا لری. که تاسو پوهیږی چې تاسو بیا بیا ټرانزیټ کاروی، تاسو کولی شی د ټکټ یوه ټولګه او یا میاشتنی پاس د ځانګړو پلورنځیو څخه او یا دلته په آنلاین توګه ترلاسه کړی: **calgarytransit.com**

## لیږد یا ټرانسفر

که تاسو اړتیا لرئ خپل منزل ته د رسېدو لپاره بس او سیټرین دواړه وکاروی، په یاد ولرئ چې د خپل بس چلوونکي څخه د ټرانسفر غوښتنه وکړئ او یا د خپل سیټرین ټکټ وساتئ. ټرانسفر د راتلونکو ۹۰ دقیقو لپاره اعتبار لري.

## د ټکسي په واسطه

د کلګري ټکسي او لیموزین د کلګري ښاروالۍ لخوا تنظیم شوي. کله چې ټکسي اخلی، دا مهمه ده چې مخکې پلان جوړ کړی او بوخت وخت په پام کې ونیسئ. د ټکسي د شا په بمپر کې پلیټ یې وګورئ ترڅو ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسو جواز لرونکی ټکسي اخلی. د ټکسي شرکت، د موټر رنګ او د ټیلیفون شمېرې څخه خبر اوسئ که تاسو اړتیا لری چې ورک شوي توکي تعقیب کړی او یا د خپل سوارۍ په اړه ستاینه یا اندیښنه شریکه کړی. تاسو کولی شی د خپل ټکسي کرایه د نغدو پیسو، کریډیټ یا ډیبیټ کارټونو له لارې تادیه کړی.

# په کلګري کې بلدېدل

د **calgary.ca** ویبپاڼه په کلګري کې د ژوند کولو په اړه معلومات وړاندې کوي او د کلګري د ښاروالۍ رسمي ویبپاڼه ده.

د کلګري عامه کتابتون څانګې وړیا انټرنیټ ته لاسرسی وړاندې کوي – خپلې سیمې ته نږدې ځای دلته ومومئ: **calgary.bibliocommons.com/locations.**

### فیئر انټری (Fair Entry)

د ښار سبسایډ شوي پروګرامونو او خدمتونو لپاره د غوښتنلیک بهیر په ګډون د ټرانزیټ او ساتېری اپلیکېشن. د نورو معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ ددغې ویبپاڼې څخه کتنه وکړئ: **calgary.ca/fairentry** نوم لیکنه د ښاروالۍ په تالار (Municipal Hall) کې په لاندنۍ پته کې بشپړ کېدای شي: 800 Macleod Trail S.E او یا Village Square Library چې په 2623 56th St. N.E موقعیت لري.

## ګمارنه یا استخدام

استخدام ډېری خلک کلګري ته راجلبوي. یوځل چې تاسو د ټولنیزې بیمې شمېره (Social Insurance Number, SIN) ترلاسه کړې، تاسو کولی شی د کار په لټه کې شی. ټولنیزې اړیکې جوړول (Networking) یو مهم اړخ دی کله چې د کار په لټه کې یاست او د کډوالو د خدماتي ادارې او ټولنیزې ادارې مرسته کولی شي. د نور معلوماتو لپاره ددغې ویبپاڼې څخه کتنه وکړئ: **esdc.gc.ca**

## د کډوالو خدماتي اداري

کلګري ډېرې اداري لري چې د نویو راغلیو کسانو سره مرسته کوي. ډېرې اداري کولی شي د کور څخه نیولې تر ګمارنې او د ټولنیزو اړیکو موندلو پورې په وړیا توګه مرسته وکړي. مهرباني وکړئ ورکړل شوي نوملړ ته مراجعه وکړئ.

## د انګلیسي د ژبې زده کړه

غواړې چې خپله انګلیسي ژبه ښه کړې او د یا انګلیسي ژبه زده کړې؟ د کډوالو ډېرې خدماتي اداري کولی شي پدې کې ستاسو سره مرسته وکړي. ځان ته د سم پروګرام د موندلو لپاره نوملړ وګورئ.

# چک لیست

یو نوي ښار ته تلل ښایي خورا ستونځمن کار وي. لاندنی چک لیست به د ډېرو مهمو شیانو په یام کې ساتلو کې ستاسو سره مرسته وکړي چې تاسو به یې سرته رسولو ته اړتیا ولرئ، کله چې تاسو په کلګري کې مېشت شئ.

☐ **د استوګنې ځای ومومئ**

☐ **اسانتیاوې تنظیم کړئ ***

* ځینې اسانتیاوې ستاسو د کرایې په تړون کې شاملې دي. مهرباني وکړئ لومړی د خپل کور د خاوند سره وګورئ.

- کیبل یا انټرنیټ
- ټیلیفون
- اوبه
- برېښنا
- تودوښه
- ګاز

☐ **د ټولنیزې بیمې شمېرې لپاره غوښتنه وکړئ**

تاسو اړتیا لرئ چې په کاناډا کې د کار کولو لپاره د ټولنیزې بیمې شمېره (SIN) ولرئ. د نور معلوماتو لپاره ددغې ویبپاڼې څخه کتنه وکړئ: **servicecanada.gc.ca**

☐ **د خپل البرټا روغتیا کارت لپاره غوښتنه وکړئ**

تاسو باید کلګري ته د رسېدو په دریو میاشتو کې د البرټا روغتیا پاملرنې لپاره راجستر شئ. ستاسو د البرټا روغتیا کارټ د لومړني روغتیا پاملرنې خدمتونه وړاندې کوي. د نورو معلوماتو لپاره ددغې ویبپاڼې څخه کتنه وکړئ: **health.alberta.ca**

☐ **د کډوالو خدماتي اداري سره اړیکه ونیسئ**

دا نقشه د هغو ادارو د اړیکو معلومات وړاندې کوي چې تاسو سره په کلګري کې د مېشتېدو په اړه به مرسته وکړي.

☐ **د کور او یا کرایه ورکونکو بیمه**

☐ **د البرټا د موټر چلولو جواز یا البرټا د پېژندنې کارټ (Alberta ID) لپاره غوښتنه وکړئ**

د نورو معلوماتو لپاره ددغې ویبپاڼې څخه کتنه وکړئ: **servicealberta.gov.ab.ca**

☐ **د یو کاناډایي بانک د اکاونټ یا حساب لپاره غوښتنه وکړئ**

د نورو معلوماتو لپاره ددغې ویبپاڼې څخه کتنه وکړئ: **bankingforall.ca**



# چيري و لاړ شي او څنګه هلته ورسيږي


## روغتونونه

| | | |
|---|---|---|
| 1 | Alberta Children's Hospital / البرټا چيلډرنز هسپيتال | 28 Oki Dr. N.W. |
| 2 | Foothills / فوټ هيلز | 1403 29th St. N.W. |
| 3 | Peter Lougheed / پيټر لاﺉډ | 3500 26th Ave. N.E. |
| 4 | Rockyview / راکي ويئو | 7007 14th St. S.W. |
| 5 | Sheldon Chumi / شيلډن چمي | 1213 Fourth St. S.W. |
| 6 | South Health Campus / ساؤت هيلت کمپس | 4448 Front St. S.E. |

## مهم ځايونه يا لنډمارکس

| | |
|---|---|
| کلګري ايئرپورټ (هوايي ډګر) / Calgary Airport | 2000 Airport Road N.E. |
| کلګري ټاور (برج) / Calgary Tower | 101 Ninth Ave. S.W. |
| سيډلډوم / Saddledome | 555 Saddledome Rise S.E. |

| | منزل | پته | پروګرامونه او خدمتونه | ويبپاڼه |
|---|---|---|---|---|
| | **عامه اداري** | | | |
| 1 | Bow Valley College (BVC) /بو ويلي کالج | 345 Sixth Ave. S.E. | د زده کړې پروګرامونه او کورسونه. | bowvalleycollege.ca |
| 2 | په سوداګرۍ او مسلکي چارو کې د کډوالو لپاره لارښوونې | Bow Valley College, West Campus, Room 219, 300 Sixth Ave. S.E. | د استخدام خدمتونه: رزيومي (لنډه بيوګرافي)، د مرکې لپاره سلا مشورې ورکول او د مسلکي کسانو لپاره د زده کړې ډلې. | directionsforimmigrants.ca |
| 3 | Calgary Board of Education / د کلګري د ښوونې او روزنې اداره | 1221 Eighth St. S.W. | د ښوونځي د عمر ماشومانو لپاره د وړکتون څخه تر ۱۲ ټولګي پورې نوم ليکنه. | cbe.ab.ca |
| 4 | Calgary Catholic School District, St. John's Reception Centre / د کلګري د کاتوليک ښوونځيو اداره، د سېنټ جانز د هرکلي مرکز | 15 12th St. N.W. | د وړکتون څخه تر ۱۲ ټولګي پورې د ماشومانو لپاره د کاتوليک ښوونځي نوم ليکنه. | cssd.ab.ca |
| 5 | Central Library / مرکزي کتابتون | 800 Third St. S.E. | د کتابتون کارټونه د کلګري اوسېدونکو لپاره وړيا دي. په کتابتون کې د کار لټونکو، نويو راغليو کسانو، کورنيو او زده کونکو لپاره وړيا انټرنيټ ته لاسرسی، جلا کوټې او پروګرامونه شتون لري. | calgarylibrary.ca |
| 6 | Genesis Centre 1000 Voices / جنيسز سنټر 1000 وايسز | 7555 Falconridge Blvd. N.E. | د ساتېرۍ، سپورټ او کلتور اسانتياوې. ۱۰۰۰ وايسز تر ۴۰ زيات د خدمتونو وړاندې کونکو ادارو سره په ګډه کار کوي او له ۱۰۰ څخه ډير پروګرامونه لري، د کارموندنې روزنه، د استوګنې خدمتونه او د مشرانو او ځوانانو لپاره د پروګرامونو په ګډون. | genesis-centre.ca |
| 7 | Harry Hays Building (Government of Canada Building) / هيري هيز بيلډنګ (د کاناډا حکومت ودانۍ) | 220 Fourth Ave. S.E. | سرويس کاناډا (Service Canada) – د کارموندنې خدمتونه، د کورنۍ خدمتونه، د نويو راغليو کسانو ته د کاناډا خدمتونه. | servicecanada.gc.ca |
| | **کډوالو ته خدماتي اداري (غير انتفاعي اداري يا انجوګانې)** | | | |
| 1 | Calgary Bridge Foundation for Youth (CBFY) / کلګري بريج فاونډيشن فار يوت | 620, 5920 Macleod Tr. S.W. | په ښوونځي کې شامليدل \| د لارښوونې پروګرام \| د ښوونځي پروګرام وروسته \| علمي ښوونه \| د دوبي پروګرام | cbfy.ca |
| 2 | Calgary Catholic Immigration Society (CCIS) / کلګري کاتوليک ايميګرنټ سوسايټي | 1111 11th Ave. S.W. | د بيا ميشتيدنې او ادغام خدمتونه \| ژباړه او د لومړۍ ژبې مرسته \| د ژبې روزنه \| د سوداګرۍ او کارموندنې روزنې خدمتونه \| د کمپيوټر خدمتونه \| د سلا مشورې ورکولو او راجع کولو (ريفرل) خدمتونو مرسته \| د روغتيا لارښونه \| ټولنيزې اړيکې \| ولينټير يا دواطلب پروګرامونه \| د کورنۍ او ماشوم خدمتونه \| د ځوانانو پروګرامونه \| د مشرانو پروګرامونه \| دغه خدمتونو ته د لاسرسي لپاره تاسو اړ نه ياست چې کاتوليک اوسی | ccisab.ca |
| 3 | The Immigrant Educational Society (TIES) / دي ايميګرنټ ايجوکيشنل سوسايټي | 1730 40th St. S.E.<br>3820 32nd St. N.E.<br>32 Westwinds Cres. N.E. | د بيا ميشتيدنې خدمات \| د ژبې روزنه \| د کارموندنې خدمتونه \| د کمپيوټر خدمتونه \| ولينټير يا دواطلب پروګرام \| د ماشومانو خدمتونه | immigrant-education.ca |
| 4 | Calgary Immigrant Women's Association (CIWA) / کلګري ايميګرنټ ويمنز ايسوسيئشن | #200, 138 Fourth Ave. S.E. | د بيا ميشتيدنې خدمتونه \| د کډوالو خدمتونه \|ژباړه او د لومړۍ ژبې مرسته \| د ژبې روزنه \| د کارموندنې خدمتونه \| د کمپيوټر خدمتونه \| دسلا مشورې خدمتونه \| روغتيايي خدمتونه \| قانوني مرسته \| توکمپالنه يا تبعيض \| په ټولنه کې ګډون \| ولينټير يا دواطلب پروګرامونه \| د کورنۍ خدمتونه \| د ځوانانو خدمتونه \| د مشرانو پروګرامونه \| د ماشومانو خدمتونه | ciwa-online.com |
| 5 | Centre for Newcomers (CFN) / سنټر فار نيوکمرز | #1010, 999 36th St. N.E. | د ميشتېدنې خدمتونه \| د انګليسي ژبې روزنه \| د مسلک پراختيا او د دندې لټون خدمتونه \| د ولينټير يا دواطلب پرمختيا پروګرام \| د محاسبانو د پروګرام لپاره د سوداګريزو اړيکو پوهاوی \| د ځوانانو د پرمختګ پروګرام \| د ايتنيسيټي د خوږو د لېږد روزنيز پروګرام \| د ژوند مهارتونو پروګرام \| د ټولنې نوښتونو ته ښه راغلاست \| د ماشومانو د مېشتولو پروګرام | centrefornewcomers.ca |
| 6 | Immigrant Services Calgary (ISC) / ايميګرنټ سروسز کلګري | #1200, 910 Seventh Ave. S.W. | د ميشتېدنې او ادغام خدمتونه \| ژباړه \| د ژبې ارزونه \| تعليمي او مسلکي سلا مشورې \| د مشرانو پروګرامونه \| ولينټير يا دواطلب پروګرام \| د تابعيت لپاره چمتو والی \| د کار موندنې خدمتونه او روزنې پروګرام \| د ماشوم او والدين پروګرامونه \| د ځوانانو پروګرامونه \| د والدينو او کورنۍ ملاتړ پروګرام \| د نارينه وو پروګرام \| د سلا مشورې خدمتونه | immigrantservicescalgary.ca |
| 7 | Jewish Family Service Calgary (JFSC) / جويش فيملي سرويس کلګري | #420, 5920 1A St. S.W. | د بيا ميشتيدنې خدمتونه \| ژباړه او د لومړۍ ژبې مرسته \| د کار لټون خدمتونه \| د سلا مشورې خدمتونه \| د مشرانو پروګرامونه \| دغه خدمتونو ته د لاسرسي لپاره تاسو اړ نه ياست چې يهودي اوسی | jfsc.org |


R
Tuscany
B
Saddletowne
B
69th Street
Somerset - Bridlewood
Crowchild Trail
John Laurie Blvd
NOSEHILL
PARK
Stoney Trail
McKnight Blvd
16th AVE
Memorial Drive
Bow River
Bow Trail
Sarcee Trail
Elbow River
Macleod Trail
Blackfoot Trail
Deerfoot Trail
Barlow Trail
Glenmore Trail
GLENMORE
RESERVOIR
Heritage
Drive
FISH
CREEK
PARK
Stoney Trail
Deerfoot Trail
N
د سيټرين د ريډ لاين تمځايونه
د سيټرين د بليو لاين تمځايونه
روغتونونه
مهم ځايونه يا لنډمارکس
عامه اداري
د کډوالو خدماتي اداري
د ښار مرکزي سيمه يا ډاون ټاون